# بهرته د درملنې په موخه د ناروغانو د تګ د عمده لاملونو څېړنه

(د علمي - څېړنیز سیمینار د مقالو ټولګه)

۱۴۰۳ هـ.ش




بهرته د درملنې په موخه د ناروغانو د تګ د عمده لاملونو څېړنه
(د علمي - څېړنیز سیمینار د مقالو ټولګه) ۱۴۰۳ هـ.ش

# Key Factors Influencing Patients to Seek Medical Treatment Abroad

(Research Articles)

2026

ISBN 978-9936-672-06-2
9 789936 672062

د افغانستان اسلامي امارت

د علومو اکاډمي

د طبیعي – تخنیکي علومو معاونیت

د طبي علومو مرکز

# بهرته د درملنې په موخه د ناروغانو د تګ عمده لاملونو څېړنه

(د علمي- څېړنیز سیمینار د مقالو ټولګه)

۱۴۰۳ هـ.ش

**د مقالو د ارزونې کمیسیون:**

- الحاج مفتي مولوي امیر جان ثاقب
- سرمحقق ډاکټر احمدشاه عمر وردک
- دوکتور سید حبیب الله پیرزاده غزنوي حسیني
- سرمحقق ډاکټر میرویس حقمل
- مولوي عرفان الله عرفان
- سرمحقق ډاکټر محمد حسن ساعي
- سرمحقق غلام نبي حنفي
- سرمحقق ډاکټر ضیاء الرحمن حقمل
- سرمحقق محمد میا مرهون
- معاون سرمحقق محمد مرتضی شیرزوی

**ځانګړتیاوې:**

**مهتمم:** څېړندوی ډاکټر میر افضل کټوازی

**اېډېټور:** د مقالو د ارزونې کمیسیون

**د سیمینار کال:** ۱۴۰۳ هـ.ش

**د چاپ کال:** ۱۴۰۴ هـ.ش / ۱۴۴۷ هـ.ق

**د چاپ ځای:** ستارۀ همت مطبعه، کابل - افغانستان

**خپرندوی:** د افغانستان علومو اکاډمۍ د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

**آدرس:** د افغانستان علومو اکاډمي، شاه بوبوجان کوڅه ، شهرنو، کابل

**شمارۀ تماس ریاست اطلاعات و ارتباط عامه:** ۰۲۰۲۲۰۱۲۷۹(۰۰۹۳)

**ایمیل ریاست اطلاعات و ارتباط عامه:** info@asa.gov.af

ISBN : ۲- ۰٦- ٦۷۲- ۹۹۳٦- ۹۷۸

**د چاپ ټول حقوق له علومو اکاډمي سره خوندي دي**

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمدلله رب العٰلمين والصلوٰة والسلام على سيد المرسلين وعلى آله وأصحابه أجمعين.

# د موضوعاتو لړلیک


افتتاحیه بیانیه ........................................................................ 1
د کورنیو چارو وزارت/پیغام ........................................................... 3
د ملی دفاع وزارت د صحییه قوماندانی / بیانیه ..................................... 5
د افغانستان اسلامي امارت د چارو د اداري د استازي بیانیه .................... 9
د کابل پوهنتون بیانیه .......................................................... 12
د افغانستان د روغتیایي کاري ځواک څېړنه: ننګونې او حل لارې.......................... 15
په افغانستان او نړۍ کې د طبي توریزم او صحي سفرونو د وضعیت څېړنه ....................... 57
په افغانستان کې تخصصي روغتیایي خدمتونو ته د لاسرسي پر وړاندې خنډونه:... ........ 82
بررسی امکانات تشخیصیه و لابراتواری طبي در افغانستان ................................. 128
نظام های صحی الگوی جهان: ویژگی های کلیدی و بهترین شیوه ها ........................ 148
د ناروغانو په درملنه کې د درملو د کیفیت د کنټرول اغېزه ........................... 163
د درملنې په موخه نورو هیوادونو ته د افغان ناروغانو د تګ اقتصادي اغېزې څېړل.......... 193
بررسی دیدگاه بیماران روانی تداوی شده در خارج از کشور و عوامل مرتبط با آن... ....... 204
د افغانستان په اقتصادي وده باندې د روغتیا په سکټور کې د ترسره شویو لګښتونو اغېز ... 218
د ناروغانو او عامو خلکو له نظره بهرته د صحي سفرونو لاملونه ........................ 230
بررسی تاثیرات روانی مسافرت بیماران برای تداوی به خارج از افغانستان.................. 242
په نړۍ کې د روغتیایي سیستمونو د موډلونو یو پرتله ایز تحلیل......................... 258

بسم الله الرحمن الرحیم

# بهرته د درملنې په موخه د ناروغانو د تګ د عمده لاملونو د څېړنې تر سرلیک لاندې علمي- څېړنیز سمینار په هکله د طبیعي – تخنیکي علومو په برخه کې د افغانستان د علومو اکاډمي مرستیال محترم الحاج مفتي مولوي امیرجان ثاقب افتتاحیه بیانیه

الحمد لله الذی خلق الانسان فی احسن تقویم والصلوة والسلام علی اشرف الانبیاء و المرسلین سیدنا محمد و علی آله و اصحابه اجمعین.

اما بعد! ډېر د ویاړ او خوشحالۍ ځای دی چې نن ورځ د افغانستان اسلامي امارت د علومو اکاډمي د طبیعي – تخنیکي علومو معاونیت د طبي علومو د مرکز په ابتکار او نوښت ( بهر ته د درملنې په موخه د ناروغانو د تګ د عمده لاملونو څېړنه) تر سرلیک لاندې علمي ـــــ څېړنیز سمینار چې د هېواد په اوسنیو شرایطو کې یوه ډېره ګټوره، مهمه او حیاتي موضوع ګڼل کېږي؛ دایر کړی دی.

د بشري ژوند لپاره ټول اړین مواد د انسان په روغتیا کې مهم رول لوبوي، خو خوراکي توکي، د سون مواد او درمل د بشري ټولنې بنسټیزې اړتیاوې ګڼل کېږي او برابرول یې اړین بلل کېږي، د ټولنې لپاره د باکیفیته خوراکي توکو، د سون موادو او درملو برابرول د نظام او اړوند مسلکي رشتې روزل شویو ظرفیتونو، استعدادونو، متخصصینو او کار پوهانو یو له عمده مسؤلیتونو څخه دي چې باید په پوره صداقت، دیانت او امانت دارۍ سره یې سر ته ورسوي. هر یو له پورته ذکر شویو موادو څخه هغه مهال د انسانانو لپاره ګټور تمامېدلای شي چې کیفیت یې ښه او مصؤن وي.

په افغانستان کې د تېرو څو لسیزو جګړو او بې‌ثباتۍ له امله د نورو سکټورونو تر څنګ د روغتیا برخې ته هم ډېر زیان رسېدلی دی او زیاته پاملرنه ورته نه ده شوې. خو په دې ورو ستیو کلونو کې د روغتیا په برخه کې ځینې پانګونې او پرمختګونه تر سترګو کېږي، چې روغتیایي خدمتونو ته یې د خلکو لاسرسی ښه او آسانه کړی او د ګڼ شمېر ناروغیو کچه یې تر یوه بریده راټیټه کړې ده، خو لا هم ډېر کار او زیار ته اړتیا ده، ترڅو د هېواد په سطحه روغتیایي سکټور پیاوړی او پراخه شي او هغه پانګه چې د درملنې په موخه بهرنیو هېوادونو ته ځي؛ د بېلابېلو روغتیایي

تخصصي- پالیسیو او ستراتیژیو په جوړولو او عملي کولو سره یې مخه ونیول شي، ترڅو زمونږ هېواد په اړونده برخه کې په ځان متکي او ځان بساینې ته ورسېږي.
ګڼ شمېر افغانان د تېرو لسیزو دوامدارې جګړې او بې ثباتی، اړوندو روغتیایي رشتو کې د تخصصي ځواک کموالي، د درملو ټیټ کیفیت، د غیر مسلکي ا شخا صو له خوا د ناروغیو غیر معیاري درملنې، د درملنې لوړو لګښتونو، د ښه تشخیص او پرمختللې ټیکنالوژي نه شتون او د روغتیا په سکټور کې داخلي بې باوری او دې ته ورته نورو ناخوالو اړ کړي دي چې د درملنې په موخه بهرنیو هېوادونو ته په ستونزمنو لارو لاړ شي او له حده زیات لګښتونه وکړي.
د دغسې ستونزمن وضعیت دوام نه یواځې روغتیایي سیستم ته زیان رسوي، بلکې د خلکو اقتصادي وضعیت هم کمزوری کوي، عامه نارضایتي او بې اعتمادي ډېروي او د ټولنیزې بېعدالتی واټن لا پراخوي. که په وړاندې یې پر وخت اقدامات ونه شي، ستونزه به لا پسې ژوره شي، چې پایلې به یې د هېواد روغتیایي او اقتصادي ثبات ته اوږدمهاله صدمه ورسوي.
دا چې د روغتیا سکټور د هېواد یو له مهمو بنسټیزو برخو څخه دی او د بشري پانګې د ودې او د هېواد د تولیدي ظرفیت په لوړولو کې اساسي نقش او اغېز لري. نو د روغتیا په سکټور کې پانګه اچونه او د علمي او مسلکي ظرفیت لوړوالی، نه یواځې د خلکو د ژوند کیفیت ښه کولای شي، بلکې د کارکوونکو د فعالیت د غوروالي او د هېواد په کچه د تولید د لوړوالي زمینه هم برابرولای شي، چې په پایله کې یې اقتصادي وده ښه والی مومي او کولای شي د درملنې په موخه د ناروغانو د مسافرت او د هغو د پانګو د فرار په مخنیوي کې تر ډېره بریده اغېزناک واقع شي.
په پای کې د افغانستان د علومو اکاډمي د طبیعي – تخنیکي علومو معاونیت د طبي علومو مرکز ته چې په دغسې یوه روغتیایي موضوع یې علمي — څېړنیز سمینار دایر کړی چې په او سنیو شرایطو کې زمونږ د هېواد او خلکو لپاره فوق العاده مهم او حیاتي ارزښت لري، د لازیاتو بریاوو هیله لرم، توقع مو دا ده چې په دغسې سمینارونو کې علمي بحثونه ترسره شي، د روغتیا او د ژوند د چاپېریال ساتنې علمي لارې چارې په ګوته شي، په سمینار کې ویل شوې مقالې چاپ او د هېوادوالو په اختیار کې ورکړل شي.

و من الله التوفیق

الحاج مفتي مولوي امیرجان ثاقب

د طبیعي – تخنیکي علومو په برخه کې د افغانستان د علومو اکاډمي مرستیال

بسم الله الرحمن الرحیم

د افغانستان د اسلامی امارت

# د کورنيو چارو وزارت | د عامه اړيکو لوی رياست

# بهر ته د درملنې په موخه د هېوادوالو د تګ د مهمو عواملو د څېړلو جوړ شوی علمي ـ څېړنيز سيمينار ته د کورنيو چارو سرپرست وزير پيغام

السلام علیکم و رحمته الله وبرکاته!

وياړم چې نن د افغانســـتان د علومو اکاډمي د طبي علومو معاونيت د طبي مرکز له لورې ( بهر ته د درملنې په موخه د هېوادوالو د مســـافرت په مهمو عواملو د څېړنې) ترسرليک لاندې جوړ شوي علمي ـــ څېړنيز سيمينار ته د کورنيو چارو سرپر ست وزير په توګه خپل پيغام ستا سې محترمو د علومو ا کاډمی علمي کادرونو، د پوهنتونونو اســـتادانو، د روغتيا د برخې پ ياوړو ډاکټرانو، متخصصينو او د سيمينار ټولو ګډونوالو حضور ته په ټول درناوي سره وړاندې کوم.

په سر کې د افغانستان د علـومو اکاډمۍ د مـشرتابه څخه مننه کوم چې په داسې حساسو او اړينو شېبو کې يې د دې ملي او ارزښتناک سيمينار د جوړولو تابيا کړې ده.

زه د دوی دا مهم ګام ســـتايم او دوی ته په چارو کې د برياليتوب غوښـــتونکی يم. له بده مرغه تېرو ۴۰ کلونو جګړو زموږ د هېواد ټول اســـاسي او خدماتي بنســـټونه ځپلي او متاثره کړي دي چې په خپو ودرېدل يې ډېر کار او پياوړې اراده غواړي.

روغتيايي برخه هم د دغو مهمو څانګو يوه برخه ده، چې له بده مرغه لکه څرنګه چې لازمه وه په تېرو شلو کلونو کې د نړيوالو بې حسابه مالي مرستو سره سره دې مهمې او حياتي برخې ته اساسي کار ونه شو. له بده مرغه اوس مهال موږ په هېواد کې د مهمو ناروغيو لکه د زړه، ځيګر، د پښـــتورګو پيوند، سرطاني ناروغيو او داســـې نورو پېچلو روغتيايي برخو د معياري او ډاډمن تشـــخيص او درملنې پرمخ تللي روغتيايي مراکز او روغتونونه نه لرو چې په معياري او ډاډمنه توګه پکې زموږ ناروغان درملنه شي. يادې ســـتونزې زموږ ډېر شـــمېر هيوادوالو ته ګڼ شـــمېر مشـکلات او اقتصـادي سـتونزې رامنځ ته کړې دي. له يو پلوه مو په کور دننه طبابت اعتماد له لاســـه ورکړی او د بل لوري مو هيوادوال له يو لړ سرګردانيو سره مخ دي، چې په نتيجه کې يې له دې لارې زموږ د هېوادوالو ميليونونه افغانۍ بهرنيو هېوادونو کې د درملنې په موخه لګول

کیږي.
زه ډاډه یم چې ددې علمي ــ څېړنيز سیمینار درانه متخصص ګډونوال به په پوره مسلکي ډول د هېواد د روغتیا په برخه کې موجودې ناخوالې په هر اړخیزه توګه وڅېړي او خپلې علمي موندنې او د سیمینار غورچاڼ به د یو مدون سند په توګه د اسلامي امارت قدرمن مشرتابه ته وړاندې کړي، ترڅو یادو ستونزو ته عملي او اساسي لارې چارې ولټول شي.
همدا شان د کورنیو چارو وزارت له ادرسه چې په هیواد کې امنیتي او نظم ټینګونکی بنسټ دی تاسو ته پوره ډاډ درکوم چې په یاده برخه کې ستاسو د غوښتنو او مناسبو طرحو پوره ملاتړی یم، په پوره توان سره زیار باسو د هېواد په ګوټ ګوټ کې ټینګ شوی امنیت چې موږ او تاسو ته یوه الهی ډالۍ ده د هېواد امنیتي ځواکونو پر مټو ټینګ وساتو ترڅو د ټولو اقتصادي او روغتیایي پروژو مناسب او چټک تطبیق ته لاره هواره شي.
په پای کې ملي پانګوالو او ټولو شتمنو هیوادوالو باندې غږ کوم چې ټول په ګډه د عامې روغتیا سکتور سره یو ځای شي او داسې معیاري صحي مراکز جوړ او رامنځ ته کړي چې نور زموږ درانه ولسونه د درملنې په موخه بهرنیو هیوادونو تګ ته اړ نشي او د دوی د مجبوریتونو نه په ګاونډیو هیوادونو کې ناسمه ګټه پورته نشي.
د روغتیا برخې د ټولو محترمو ډاکټرانو او صحي پرسونل د خدمتونو قدرداني کوم، له دوی مې هیله داده ترڅو خپلې طبي علمي پنځونې لوړې کړي، د طبابت د برخې نوې منل شوې معیاري زده کړې تر لاسه او ولس سره د طبابت د اخلاقو په چوکاټ کې نېک سلوک وکړي تر څو هېوادوال مو نا امېده او مایوسه نشي.
په هېواد کې د یو پرمخ تللي او ځواب ویونکي روغتیایي سکتور د درلودلو په هیله.
په درنښت

**د کورنیو چارو سرپرست وزیر**

**الحاج خلیفه سراج الدین حقانی**

**بسم الله الرحمن الرحيم**

**د افغانستان اسلامی امارت**

## د ملی دفاع وزارت | د صحیه قوماندانی

**Islamic Emirate of Afghanistan Ministry of Defense General Staff**

# د هېواد روغتیايي سیستم ناخوالي مجبوریتونه او د حل لارې

نحمده ونصلي على رسوله الكريم اما بعد:

فأعوذ بالله من الشـيطان الرجيم، بسـم الله الرحمن الرحيم. "ومن أحياها فكأنما أحيا الناس جميعاً" صدق الله العظيم.

د افغانســتان اســلامی امارت د علومو اکاډمی د عمومي ریاسـت په غوښـتنه چی د طب اړوند سـتونزو او له هیواده د باندې د ناروغانو تللو عوامل او طرزالعمل ته خاص شـوی وو څه ډول کولای شو چی د طبابت په برخه کی خودکفا شو ولی مو هیوادوال په خپلو ډاکټرانو باور نلری او داسی نورو مختلفو عنواناتو ته په کتلو سره چی د خپل مسلک او مسؤلیت په اساس د هیواد د فعلي روغتیایی ما شین څیړلی ده د امکان تر حده مو عوارض او چالشونه مشخص کړي دي که په جهادی عزم ورته کار وشـی هغه وخت لری نده چی موږ به د روغتیا په برخه کی خود کفا شوی یو او بلا ډیره بودیجه به مو سپمولی وی او د سالم صحت ترڅنګ به مو اقتصاد هم رغولی وی.

د افغانسـتان د روغتیا سـیسـتم ته په تیره پنځوس کلنه دوره کی کافي زیان رسـیدلی دی. دا چی د علمی کادرونو روزل او نوي اپډېټ طبابت ته لاسرسی د آزاد خپلواک نظام ترڅنګ وخت ته هم اړتیا لري، چی بدبختانه په تیره شـل کلنه دوره کی هیڅ کار ورته نه دی شـوی او هغه پخوانی سیستم یا زوړ شوی دی او یا لمنځه تللی دی.

د هیوادوالو روغتیا او آرام ژوند د اسـلامی امارت د وخت حاکم نظام له سـترو مسـؤلیتونو څخه شـمیرل کیږي. د افغانسـتان سـیاسـی بی ثباتي، جغرافیایی جوړښـت، د کیمیاوي موادو او بارودو، غیرطبیعي خوړو، ناپاکو اوبو، د محیط زیسـت د شرایطو مدنظر نه نیولو وخت پر وخت اقلیمي بدلونونه، د داخلي تولیداتو نه لرل یا غیر معیاري توب له د باندې وارداتي بی کیفیت درمل او غیرمسلکي معالجین دي چی له امله یې د میکروب او ویروس مقاوم کیدل د انسان د وجود د قوت مدافیعت ضعف او په ټوله کی مهاجرت یا جنګ د ژوندانه نامساعد شرایط ضعیف اقتصاد او د صحي خدماتو نه شتون او غیر معیاري توب ده چی ورځ تربلي ناروغان زیاتیږی او

د ناروغیو د اپیدمۍ مخه نه دی نیول شوی او سرایت یې زیات شوی دی.
په تیرو څلورو لسیزو کی د مسلسل جنگ له امله د روغتیا سیستم زوړ شوی او له فعالیته ولیدلی او په نږدی راتلونکي کی هم د مثبت پر مختگ امید نه لیدل کیږي.
باید یادونه وکړم چی د هیواد ستره بودیجه په روغتیا په برخه کی په ناسم ډول مصرفیږي او ډیره برخه یې له هیواده دباندې مصرفیږي، چی گاونډیان هم ورته د غنیمت په سترگه گوري او بدبختانه دغه لړۍ لاهم دوام لري.
یو لړ اړین اصلاحات دي که د روغتیایي بنسټونو پاملرنه ورته وشی لری نده چی د ناروغیو دغه ستر تهدید به مو په بریا لمنځه وړی وی او خپل راتلونکي نسلونه به مو له مزمنو ناروغیو د پردیو له احتیاج او بې ځایه مصارفو او سیاسي، نیابتي فشارونو ژغورلی وی.
## د طب پوهنځیو معیاري کول
زمونږ د هیواد لوړی زده کړی هم د پورتنیو ذکر شویو عواملو له امله خپل خوند، معیار او اهمیت له لاسه ورکړی دی که د لوړو زده کړو وزارت یی په اړه کوټلي گامونه وانخلي موږ به له جدید طبابت څخه دیر لری پاتی شو. د نصاب کریکولم او لابراتوارو برخه باید معیاري شی ما خپله د طب پوهنځي کی تروخت تیر د طبابت له نړیوالي نصاب څخه وتلي قواعد لوستلي چی بیا وروسته له فراغته پوه شوی یم چی غلطه محاسبه مو کړي وه. د اسلامی امارت په تیره دوره کی د طب پوهنځي محصل وم، ټول لکچر نوټونه مو استادانو له روسي ژبي څخه دری ته ژباړلي وو، بیا د ستاژ په وخت کی پوه شوم چی اوس هغه میتودونه او پروسجرونه له فعالیته ولیدلی دي.
د طبابت نوي عصري متخصصین باید جلب کړی په لوړو معاشاتو یی له هیواده د باندي استخدام کړی محصل په انگلیسي ــ ژبه زده کولو مکلف کړی ترڅو مطالعه وکړي. بدبختانه زمونږ په خیله ژبه کی د مطالعې لپاره ژباړی او مأخذ نلرو.
## د عامه روغتیا وزارت مسؤلیتونه
1. د عامه روغتیا وزارت باید پراخه بودیجه ولري ترڅو طبی تجهیزات او تشخیصیه وسایل اکمال کړي ترڅو د ناروغۍ تشخیص وشي او درملنه یې په کور دننه شي.
2. په مختلفو شعباتو کی متخصصین باید جلب کړی او د معاش له اړخه یی حمایه شي.
3. د عامی روغتیا وزارت باید د یو شفاف میکانیزم له لاري په روغتونو کی یوه اندازه کم فیس

واخلي ترڅو د وسایلو د ساتنې او د پرسونل حق الزحمې لپاره ورڅخه استفاده وشي.

4. د عامه روغتیا وزارت دی د بی کیفیتو درملو د وارداتو مخه په جدي توگه ونیسي.

5. د عامه روغتیا وزارت ده چی د هر روغتون ومخته شخصي درملتونونه او لابراتوار او اکسري بند کړي او یا آسانتیاوی دی په هر روغتون کی دننه فعال شي تر څو د فساد مخه ونیول شي او معیاري خدمات وړاندې شي او د باندی دوکانونه په دولتی سکتور منفی اغیز ونکړی.

6. د عامی روغتیا وزارت ده شخصی سکتور ته خاص پاملرنه وکړي ترڅو بیا طبابت مستند او قیمتونه را ټیټ کړل شي. که یو روغتون خودکفا نه وي، باید د سهامی دوله څو روغتونونه یو په بل کی مدغم شي او په هر ولایت کی مجهز روغتون او خدمات باید عرضه شی.

7. اسلامی امارت دی د زکات او خیرات او هغه عوائد چی اضافي وي، د یو اعتمادي سیستم له لاري دی د بی وسه ناروغانو لپاره وقف کړی که یو غریب ناروغ پیښیږی مصارف دی له هغه ځایه ورکړل شی.

8. د عامی روغتیا وزارت دی اقلاً په هر زون کی یو روغتون باید مجهز ولری چی نږدې ولایتونه ورڅخه استفاده وکړي.

9. اسلامی امارت دی د انساني اعضاو د پیوند اړوند مسلکي استفتا وکړی چی اکثره ناروغان له همدغه درکه له هیواده د باندي ځي، لکه د هډوکي مغز پیوند (Bone Marrow Transplantation)، (Renal Transplantation)، (Hepatic Transplantation)، (Corneal Transplant) دا ټول هغه موارد دي چی مصارف یې ډیر زیات وي او په هیواد کی اجازه نه لري او یا یی امکانات په نشت حساب دي.

10. درملو د تولید په اړه به دومره ووایم چی د هیواد داخلي ملي شرکتونه د درملو د تولید وړتیا لري باید حمایه او دیر شي موږ دیر تولیدی شرکتونه لرو باید سهامی دوله شی او اقتصادي کمیسون دی د هیواد شرکتونه وهڅوي ترڅو د درملو د تولید به برخه کی سرمایه گذاري وکړي او حتی اسلامی امارت دی سهامی شرکتونه ولری ترڅو د معیار او کیفیت تر څنگ در قیمت نظارت یی وشی.

11. اسلامی امارت دی په خاصه پاملرنه د سرطان د تشخیص او تداوي لپاره یو مجهز پرمختللی مرکز جوړ کړي زما د معلوماتو له مخي اکثره همدغه د سرطان او پیوند ناروغان دي چی اکثره یې له هیواده د باندي ځي.

12. په ټوله کی د روغتیا سکتور ته جدي پاملرنه د مشرتابه ریاست الوزراء، درانه مقامونو او د بودیجې پراخوالی او د منابعو ترلاسه کول اړین دي او د هغو غیرمرئی اشخاصو او عواملو پلټل

چې یاد سکتور یې پنځه لسیزې د ګاونډیانو په واک کې ورکړی او د اولس او ډاکتر ترمنځ یې بې اعتمادي را منځ ته کړې ده.

13. په ټول هیواد کې دی اسلامی امارت د عامې روغتیا وزارت اړوند د درملو او خوړو اداره حمایه کړي ترڅو د بی کیفیتو خوراکي توکو مخه ونیول شي حفظ الصحه مراعت شي یو تعداد اړین معاینات دی د عملیاتو په وخت کی الزامي شي او د طب عدلي اداره دی وخت پر وخت له قانوني اړخه د روغتونونو وفیات، د مرګ او میر احصایي تعقیب او لاملونه دی وپوښتي.

د هیوادوالو د سالمي روغتیا په هیله

**په درنښت**

**د ملی دفاع وزارت د روغتیایي چارو قومندان**

**ډاکتر محمد طاهر احرار**

بسم الله الرحمن الرحيم

# د افغانستان اسلامي امارت د چارو د ادارې د استازي بيانيه

## د درملنې په موخه بهر ته د ناروغانو د تگ عمده لاملونو څېړنه

د هيواد د وگړو روغتيا او وقايه د هر حکومت تر ډيره ذمه واري ده، على الخصـــوص اســـلامي امارت لکه څنگه چې د خپلو هيوادوالو د باطني ناروغيو د اصـــلاح ذمه وار دی او د هغوی د درملنې لپاره نهايي کوشـــش کوي چې د هيواد په دننه کې د باطني روغتيا مراکز جوړ کړي او کوم چې شـــتون لري ښـــه يې تجهيز او تقويه کړي او د دې لپاره اړتيا پاتې نه شي چې يو هيوادوال بل هيواد ته د دې حســـاســـې او مهمې درملنې لپاره ولاړ شي. همدا رنگه اســـلامي امارت د هيوادوالو د ظاهري ناروغيو د درملنې ذمه وار دی ، چې په خپل هيواد کې ورته داسې روغتونونه جوړ او کوم چې شتون لري ښه تجهيز او تقويه کړي او ښه قابل متخصص ډاکتران ورته پيدا کړي او د درملنې ښـــه مکمل او مجهز وســـايل په هر بخش کې را پيدا کړي تر څو د هيوادوالو درملنه په ښـــه توگه په خپلو روغتونونو کې ترسره او د دې اړتيا پيدا نه شي چې بل هيواد ته د درملنې لپاره څوک ولاړ شي.

**بهر ته د ناروغانو د تگ عمده لاملونه :**

۱- د ښو لايقو مسلکي او متخصصو ډاکترانو کمبود او نه شتون.

۲ - د مجهزو لابراتوارونو او تشـــخيصـــيه مرکزونو کمبود او د دې ځانگې د مســـلکي پرســـونل د پوهې سطحې ټيټوالی .

۳ - د تقلبي او ټيټ کيفيت درملو کارول او شتون .

۴- روغتيايي بخش چې د هيوادوالو د صحت او ژوند ور پورې تړلی تجارتي شـوی او تر ډيره په ځانگړې توگه د خصوصي سکتور لپاره تر ډيره د پيسو پيدا کول هدف دي. د ناروغانو او ناروغ لرونکو د مجبوريتونو څخه ناوړه گټه پورته کوي، ډير ځله ليدل شوي چې د يوه ناروغ درملنه په دواء ممکنه وي دوی جبراً عمليات ورته توصيه کوي.

۵- د ناروغيو نه تشـــخيص او نا درســـت تشـــخيص خلک دې ته اړ باسي تر څو د درملنې لپاره خپل ناروغان بل هيواد ته انتقال کړي.

**زمونږ له نظره يې د حل لارې دا دي :**

۱- اســـلامي امارت بايد د خپلو هيوادوالو وقايې او روغتيا ته لازمه پاملرنه وکړي. ښـــه مجهز

تخصصي او فوق تخصصي روغتونونه جوړ کړي او کوم چې شتون لري ښه يې تقويه او تجهيز کړي .
۲- ښــه کادرونه او متخصــص ډاکتران په خدمت وګوماري، کافي معاش او امتيازات ورته په پام کې ونيول شي ، تر څو دوی شخصي کار ته اړ نه شي .
۳- لابراتوارونه ، د تشخيص مرکزونه او درملتونونه تر خپل نظارت او پلټنې لاندې ونيسي تر څو لايق مسلکي متخصـص ډاکتران پکښــې توظيف او د تشـخيص ماشـينونه او تجهيزات پکښــې شتون ولري.
۴- اســـلامي امارت على الخصـــوص د روغتيا وزارت کوشـــش وکړي تر څو اکثريت بلکې ټول روغتونونه او صحي مراکز د امارت تر قيموميت لاندې راوستل شي .
۵- د روغتيا وزارت د هڅه وکړي تر څو باندنۍ روغتيايي مؤسسې تر خپل کنترول لاندې راولي او د دوی لپاره يو مناسب کاري چوکاټ رامنځته کړي .
٦: په طبي اخلاقو کار کول او هر داکتر بايد د دې طبي اخلاقو څخه برخور داره وي .

**غوښتنې او سپارښتنې :**

۱: د اسـلامي امارت څخه مو غوښـتنه داده چې د داکترانو د روزلو او تخصـصيـ کولو په برخه کې ښه زمينه سازي وکړي ، د روزلو او تشخيص مرکزونه او ښه لايق استاذان برابر کړي .
۲: بل داچې روغتونونه ، لابراتوارونه ، درملتونونه او نور داسې تشخيصي مرکزونه اکثريت بلکې ټول تر حد امکان پورې د اسلامي امارت تر کنترول لاندې امارتي شي ، شخصي پاتې نشي .
۳: بل ښـــه مســـلکي داکتران اکثريت بلکې ټولوته د کار او خدمت زمينه برابره کړي او په روغتونونو ، لابراتوارونو ، تشخيصي مراکزو کې په خدمت وګمارل شي .
۴: د ټولو داکترانو لپاره ښــه کافي معاشــونه ، امتيازات ، ترانســپورتي خدمتونه ، او د اوســيدلو لپاره کورونه برابر او ورکړل شي ترڅو دوی د خلکو د خدمت لپاره (۲۴) ساعته فارغ وي .
۵: بل داچې اســـلامي امارت هيڅاته اجازه ورنکړي ، چې يوڅوک هغه که ډاکتر وي اوکه عام تجار وي روغتونونه تشخيصي مرکزونه ، د دوا جوړولو فابريکې ، او درملتونونه د تجارت او پيسو ګټلو ذريعه وګرزوي .
٦: د تجارانو وروڼو څخه مو غوښتنه داده چې دوی هم سرمايه ګذاري په روغتونونو ، لابراتوارونو ، تشخيصي مرکزونو او درملتونونو ونه کوي ، او نه دا شيان ذريعه د پيسو ګټلو وګرزوي ، ځکه چې دا د خلکو د مجبوريتونو څخه ناوړه ګټه پورته کول دي او دا شرعاً هم روا نه دي .
۷: تجاران وروڼه بايد د اسلامي امارت سره لاس يو کړي او د صحت برخه کې ډير کومک وکړي

ترڅو هيوادوالو ته ښــه روغتونونه ، لابراتوارونه ، تشــخيصي_ مرکزونه ، د دوا جوړولو فابريکې او درملتونونه جوړ او برابر شي ، ترڅو ټول هيوادوال د دې لويې ســـتونزې څخه د ټول وخت لپاره خلاص شي ، او دوی به يو ه ښه لاره د حکوتونو اونسلونو ، نسلونو لپاره ايښي وي او مصداق د دې حديث مبارک به گرزيدلي وی ( قال النبي صلى الله عليه وسلم : من سن سنة حسنة فله اجرها و اجر من عمل بها و من سـن سـنة سـيئة فله وزرها و وزر من عمل بها ، اوکما قال النبی صلى الله عليه وسلم ) .

٨: د اسلامي امارت مشرانو څخه مو بيا دا غوښتنه ده چې د همدې تجارانو لپاره د دې تجارتونو په ځای د نورو تجارتونو زمينه برابره کړي ، چې تجاران وروښه په هغې کې خپله سرمايه گذاري وکړي .

والسلام

شيخ الحديث مولوي روح الله

د افغانستان د اسلامی امارت د چارو د اداري استازی

بسم الله الرحمن الرحیم

# ”د ناروغانو د بهرنیو هیوادونو ته د درملنې لپاره د سفر اساسي عوامل” سمینار لپاره علمي بیانیه

**نحمده و نصلي علی رسوله الکریم، اما بعد،**

محترمو استادانو، څېړونکو، د علومو اکاډمي درنو غړو، او ټولو قدرمنو حاضرینو!

السلام علیکم و رحمة الله و برکاته

زه د افغانستان د علومو اکادمي له مشرتابه څخه د ړزه له کومې مننه کوم، چې یې د دې خورا مهمې موضــوع په اړه د علمي بحث او څېړنې زمینه برابره کړېږ دا ســیمینار نه یوازې یو علمي بحث دی، بلکې د افغانســتان د روغتیایي ســکتور یوه جدي ســتونزه مطرح کوي، چې زموږ د ټولنې پر هر قشر مستقیم او غیر مستقیم اغېز لري.

موږ شــاهد یوو چې ګڼ شــمېر افغانان ناروغان د خپلې درملنې لپاره بهرنیو هیوادونو ته ځي. د ناروغانو دا ډول سفرونه یوازې د روغتیا له پلوه نه، بلکې اقتصادي، ټولنیز، او علمي زیانونه هم لري. که موږ غواړو چې ددې بهیر مخه ونیسو، نو باید د دې ستونزې اساسي عوامل وڅېړو او د حل لپاره یې علمي او عملي لارې ولټوو.

له بده مرغه، افغانســـتان لا هم د روغتیا په برخه کې له جدي ننګونو سره مخ دی. یو له عمده ســـتونزو څخه د عصرـــي طبي اســـانتیاوو نشـــتوالی دی. که څه هم زموږ د روغتیایي ســـکتور بنســـټونه ورو ورو پرمختګ کوي، خو لا هم زموږ روغتونونه د پرمختللو تشـــخیصـــیه وســـایلو، د عملیاتو د معیاري تجهیزاتو او د عصرـي ېبي درملنې د اړینو وســـایلو له کمښـــت سره مخ دي. زموږ ډاکټران، که څه هم مسـلکي زده کړې لري، خو د پرمختللو تجهیزاتو د نشـتوالي له امله د ځینو ناروغیو تشخیص او درملنه نشي کولی، چې دا مسئله ناروغان دې ته مجبوره کوي چې د پرمختللو طبي خدمتونو لپاره بهر ته لاړ شي.

بله جدي ســـتونزه د پیچلو ناروغیو تشـــخیص او درملنه ده. ځینې ناروغۍ، لکه سرطان، جینیتیکي اختلالات، د زړه ناروغۍ، او نور مزمن او نادر امراض، د ځانګړو لابراتواري او تخنیکي وسایلو او همدارنګه د تخصصي طبیبانو اړتیا لري. متاسفانه، زموږ د روغتیا سیسټم لا تر اوسه دا ظرفیت نه لري چې دغه ډول ناروغۍ په داخلي کچه تشـــخیص او تداوي کړي. د ناروغانو د بهرنیو هیوادونو ته د ســـفر یو مهم لامل همدا دی چې هغوی باور لري په بهر کې به د دوی ناروغي په پرمختتلو وسایلو تشخیص او د ماهرو متخصصینو لخوا تداوي شي.

د درملو کیفیت او د جعلي درملو شتون بله مهمه ستونزه ده، چې زموږ روغتیایي سیستم ته یې جدي زیان اړولی دی. د ټیټ کیفیت درمل، قاچاقي او غیرمعیاري درملو د خلکو پر روغتیایي سـیسـتم د باور کچه خورا راټیټه کړې، ناروغان دا فکر کوي، چې که دوی خپل درملنه په افغانسـتان کې ترسره کړي، نو هغوی ته به غیر موثر او ټیټ کیفیت درمل ورکړل شي، چې دا مسله د درملنې پر پایلو منفي اغېز لري.

د افغانسـتان د روغتیایي سـیسـتم پر وړاندې د خلکو د باور کمښـت یوه بله مهمه موضـوع ده، چې د ناروغانو د بهر ته تګ کچه یې لوړه کړې. متاسـفانه، زموږ په ټولنه کې داسـې تصـور عام شوی، چې ګواکې زموږ د هیواد طبي متخصصین د کافي تجربې او مهارت درلودونکي نه دي، او ناروغان د پرمختللو هیوادونو متخصـصـینو ته ترجیح ورکوي. دا باور که څه هم همیشـه پر حقیقت نه دی ولاړ، خو بیا هم باید د خلکو د ذهنیت بدلون ته جدي پاملرنه وشي. د دې لپاره اړینه ده، چې زموږ طبي متخصـصـین، پوهنتونونه، څېړنیز مرکزونه، او دولتي اداري د عامه پوهاوي لوړولو ته جدي پام وکړي، او د خپلو روغتیایي لاسـته راوړنو، پرمختګونو، او ظرفیتونو تبلیغ وکړي. اوس پوښتنه دا ده چې ددې ستونزې د حل لپاره څه باید وشي؟

پوهنتونونه او علمي څېړنیز مرکزونه د دې سـتونزې د هواري لپاره اسـاسي رول لري. د طبي څېړنو پراخول، د تخصصي برنامو زیاتول، عصري طبي ساینس ته د محصلینو لاسرسی، او د نړیوالو روغتیایي علمي مرکزونو سره د اړیکو پراخول، هغه موارد دي چې پوهنتونه یې باید تعقیب کړي.

په همدې ډول، د روغتیایي پالیسـۍ جوړونکو ته په کار ده، چې د طبي لوازمو د واردولو، د درملو د کیفیت کنټرول او د خصـوصي او دولتي روغتیایي مرکزونو د پیاوړتیا لپاره مشـخصـې پالیسۍ جوړې کړي. که د نظام، علمي بنسټونو، او روغتیایي سکتور ترمنځ همغږي زیاته شي، نو موږ کولی شـو د ناروغانو بهر ته تګ سـتونزه په تدریجي ډول حل کړو. همدارنګه د عامه پوهاوي لوړول هم خورا اړین دي. د خلکو ذهنیت باید بدل شي، او هغوی ته باید عملاً وښودل شي، چې زموږ د هیواد طبي متخصصین هم وړتیا لري. د همدې لپاره، اړینه ده، چې روغتیایي خدماتو ته د لاسرسـۍ کچه لوړه شي، د طبي څېړنو پایلې خلکو ته ور وپېژندل شي، او د روغتیایي کارکوونکو ظرفیت لوړ شي. زه باور لرم، چې که موږ د علمي بنسټونو روغتیایي ادارو، او دولتي ارګانونو ترمنځ همکاري زیاته کړو؛ کولی شو، د دې جدي ستونزې د حل لپاره اغېزمن اقدامات ترسره کړو. زه هیله لرم، دا علمي ـــ تحقیقي سیمینار به د دې موضوع د لا ښه درک لپاره یو مهم قدم وي، او د راتلونکو پالیسۍ جوړوونکو ته به علمي لارښوونې برابرې کړي.

زه یو ځل بیا د افغانستان د علومو اکاډمۍ څخه مننه کوم، چې یې د دې مهمې موضوع لپاره یې علمي بحث ته زمینه برابره کړه. هیله لرم، زموږ پوهنتونونه، څېړنیز مرکزونه، روغتیایي متخصصین، او پالیسي– جوړونکي به د دې بحثونو پایلې عملي کړي، تر څو موږ یو پیاوړی، معیاري او د خلکو د باور وړ روغتیایي سیستم ولرو.

په درنښت

والسلام علیکم

دکتوراسامه عزیز

د کابل پوهنتون رئیس